## د تاجیکستان ولسمشر له اسلامي احکامو سره په جنګ دی



(ژباړه)

**خبر:**

د ۲۰۱۷ م د جولای پر ۱۱مه د (ozodlik.org) انټرنېټي سیاست د راپور پر بنسټ د تاجیکستان ولسمشر امام علي رحمان په ورکړې بیانیه کې پر دې ټینګار درلود چې تور حجاب او جامې چې ښځې یې اغوندي، د تاجیکستان د ملي دودونو خلاف دی او اوږده ږیره هم په دینپالنې پورې اړه نه لري.
امام علي رحمان چې خلک یې له الله سبحانه وتعالی سره صادقانه دوستی ته رابلل، مسلمانانو ته یې وصیت وکړ چې تقوا په پردې ظاهر لکه ږیره پرېښودل، ننداری ته وړاندې نه کړي. نوموړی همدارنګه د تاجیکستان اوسېدونکي چې له ۸،۵ میلیونو څخه ډېر دي، په ښوونیزو مرکزونو کې د نجونو حجاب اغوستل او جماعت ته د طلابو تګ منع کوي.

**تبصره:**

د تاجیکستان ظالم حاکم امام علي رحمان لکه د نورو سیالانو غوندې په مرکزي اسیا کې کلونه کېږي چې له ټروریزم سره د مبارزې په پلمه د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې جنګېږي؛ لکه څنګه یې چې په دې وروستیو کې د مسلمانانو د اسلامي حجاب او حتی د ږیرې پرېښودو پر وړاندې سخت دریځونه نیولي دي. دغه ظالم حاکم د اسلامي ښکلا او ارزښتونو له منځه وړلو ته ملاتړلې ده.
نوموړی د «ټروریزم او افراطیت پر وړاندې مبارزې» تر نوم لاندې لکه مصطفی کمال اتاترک چې اسلامي خلافت یې ونړاوه، په اسلامي نومونو د نوو زیږېدلو ماشومانو نومونه منع کوي. درې زره نومونه یې په یو جدول کې راټول کړي، یوه ورځ یې رسما اعلان او ټولو خلکو ته یې امر وکړ چې پر خپلو نوو زیږېدلو ماشومان همدغه نومونه کېږدي.
هغه موقت حکومت چې د تاجیکستان ولسمشر ته ورکړل شوی، نوموړی یې مغرور او سرکښه کړی او د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې یې مبارزې ته رادانګلی دی. ده خپلل هویت هېر کړی او پر دې نه پوهېږي چې له کومه ځایه راغلی دی. همدارنګه هغه ګوابښونکي پایلې چې نوموړي ته په تمه دي،

تصور يې نه کوي. په اسلامي هېوادونو کې که خلک خپل حقونه وغواړي، ترورېسټ بلل کېږي، خو مونږ پر دې ايمان لرو، چې که هر څومره دغه مزدوران هڅه وکړي او د خپلو بادارانو ژمنې پوره کړي، بيا هم الله سبحانه وتعالی خپل نور (دين) بشپړوي؛ لکه څنګه چې فرمايي:

**(...وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ)** [صف: 8]

*ژباړه: الله سبحانه وتعالی خپل نور (دين) بشپړوي، که هر څو د کافرانو خوښه نه وي.*

او همدارنګه زمونږ خوږ پيغمبر له اوسنيو ظالمو حکومتونو وروسته داسې زېرى ورکړى دى:

**«...ثُمَّ تَكُونُ خِلافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»** (رواه احمد)

*ژباړه... بيا به د د نبوت پر تګلاره خلافت راشي.*

که څوک غواړي چې زمونږ د پيغمبر له دوستانو او ملګرو څخه وي، نو له مرګه وړاندې دې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم زيري ته هرکلی ووايي او له مخلصينو سره دې د اسلامي خلافت د راتګ لپاره يو ځای شي؛ چې د اسلامي دولت د بيا راژوندي کېدو په بنسټ کې ونډه ولري.

**ليکوال: مراد ازبک (ابومصعب)**

**۱۴۳۸ د شوال ۲۲مه**

**۲۰۱۷ م د جولای ۱۶مه**